# دیو و الی بلنه

د ټولنی له هر اړخه فریادونه را جګیږی
د غلیم راکټونه د افغان په سر لګیږی
څوک د کوره وتی نشی دمرمیو جوړ باران دی
آسمان هم یاغی شوی تندرونه را وریږی
مور د ځوی په مړی ژاړی پر سر خاوری بادوی
روند راکټ هر خوا لګیږی د کابل ښار ورانیږی
دغلیم په ستراتیژی کی ورانی د کابل ښار دی
دا فتوا د پنجابیان دی چی کابل را ورانیږی
مذهبی ډلی ټپلی پنجابیان سره په ګډه
د افغان له هره کوره قیمتی شیان لوټیږی
په لم سون د پنجابیانو وطن وران کړل مجاهد
دا مچ سترګی جهادیان هیڅ له خلکو نه شرمیږی
دوطن دبر بادی پړی اچوی په نورو
د ناراض خلکو له ډاره د غلیم تر شا پټیږی

دپردو د مټ په زور دقدرت په چوکی ناست دی

هر ورځ چی تیریږی لکه ایږه را پرسیږی

اوس هم خلک ټول نارام دی د پردو له لښکریانو

په بی وزلو له آسمانه غټ بمونه را غورځیږی

چیری یی روشنفکره غږ دی هیڅ نه اوریدل کیږی

دوطن د خواریکښو سترگی ستا خواته غړیږی

خپل صفونه رانژدی کړی ځانځانی نه لاس په سر شی

له دی وضع ستا سو خلک هره ورځ ډیر ځوریږی

د وطن اصیل بچیانو ای کین اړخو لارویانو

سره ټول په یو پارټی شی وخت په بیړه زر تیریږی

خود خواهی ښخه تیر شیی جزایرو نه بهر شیی

ځانځانی او تیت و پیت کی له یو سره ورک کیږی

د تاریخ ځواب مو ښه وی که فر صت دلاسه ورکړی

سر مو ښکته په گریوان کړی ستاسو خلک ډیر ځوریږی

پرونی یوو ، ټول ملگری یو دبل سره آ شنا

نوی ، نوی ، آ شنایان گوری هیڅ نه په کاریږی

چې په سختو ورځو تا سره وهلې وی مزل

هغه ستا دلاری مل دی له تا هیڅ نه بیلیږی

ځان دی مه غلوه یو ځلی سترګی دی را خلاص کړه

لوی متل دی نوک له غوښی هیڅکله نه بیلیږی

ګړندی شی دوحدت لاسونه ور کړی یو تر بل

د شهد ملګرو غږ له قبرونو هردم خیژی

بیرقونه یی رپیږی په لوړ غږ وایی ملګرو

ارمانونه مو پوره کړی له هدف مه په شا کیږی

زه( مل) تاسو ته بلنه د یوالی درکومه

په یووالی سره ګوند مو په قوی ځواک بدلیږی

**************

جون 27 کال 2007 **جرمنی**